د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

دفراه د لوړو زده کړو مؤسسې او د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې منځ هوکړه لیک

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

دا تفاهم لیک د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې او د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ د علمي فعالیتونو او ګډو همکاریو د ترسره کولو په موخه لاسلیک کیږي .

سریزه :

دا هوکړه لیک د قران کریم د دې لارښوونې په اساس کیږي، چې:

( {وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ المائدة :2]).

په دې آیت شریف کې الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته دا ښيي، چې په ښو او نېکو کارونو کې یو له بل سره مرسته او همکاري وکړئ، ځکه دنیوي کارونه د تعاون او همکارۍ څخه پرته سرته نه رسېږي. انسانان په دې دنیا کې حتمي یو بل ته احتیاج پیدا کوي او یوازې الله جل جلاله دی، چې چاته محتاج نه دی او بې نیاز دی. دې اصل ته په کتو سره د بادغیس دلوړو زده کړو مؤسسه او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي، چې یوله بل سره د دوه اړخیزو همکاریو تړون لاسلیک کړي. تر څو وکولای شي له دې لارې یو له بل سره په کارونو کې مرسته او همکاري وکړي .د تفاهم لیک موارد په لاندې ډول دي:

د هوکړه لیک اړخونه :

دا هوکړه لیک د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې او د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ لاسلیک کیږي، له دې وروسته ددوی لپاره (دواړه لوري) لفظ کارول کیږي .

**اوله ماده: د حمایت او همکارۍ ساحه**

**علمي او تحقیقاتي پروګرامونه په لاندې ساحوکې ترسره کیږي:**

**د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې همکاري به په لاندې ساحو کې وي:**

1. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند استادانو د علمي مقالو په لیکنه او تائید کې مرسته کوي.
2. څرنګه چې هر پوهنتون د خپلې علمي مجلې له لارې د خپلو استادانو علمي اثارو نشرولو له پاره خاص تائید شوي اصول لري، نو د همدې تفاهم په اساس به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو استادانو د اصولو په رڼا کې د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند استادانو علمي مقالې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې په علمي مجله کې نشر زمینه مساعدوي.
3. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې استاذانو ته د OBE _SCL او نورو لازمو ورکشاپونو زمینه برابروي.
4. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې سره د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې په پروسه کې هر اړخیزه مرسته کوي.
5. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو د علمي ترفیعاتو په برخه کې لازمه اصولي همکاري کوي.
6. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې د اړتیا په صورت کې د ذکر شوې مؤسسې محصلانو ته د ویډیو کنفرانس په واسطه په تدریسي او عملي چارو کې مرسته کوي.
7. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به په خپلو ملي کنفرانسونو او پروګرامونو کې بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې یو شمیر پرسونل ته د ګډون بلنه ورکوي.
8. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د لابراتوارونو تکنیشنان د هغوی د رشتې مطابق روزي، البته (د دواړو تحصیلي بنسټونو په موافقه او د امکاناتو په دائره کې).
9. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې ته د خپل کتابتون څخه د استفادې له پاره زمینه برابروي.
10. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به خپل د علمي مجلې د چاپ یوه نسخه په دوامداره توګه بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې ته لیږي.

د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې همکاري به په لاندې ساحو کې وي:

1. که چیرې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري وغواړي په بادغیس کې په کومه برخه باندې تحقیق تر سره کړي، نو په هغه صورت کې د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو تحقیقاتي امکاناتو څخه استفاده کولای شي.
2. بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو پوهنځیو اړوند مسلکي پرسونل به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو هغه پروګرامونو په تطبیق کې مرسته کوي کوم، چې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې له خوا په بادغیس ولایت کې پلي کیږي.
3. دا چې بادغیس ولایت د ځینو کرنیزو نباتاتو اصلي ټاټوبی دی، نو د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې په غوښتنه به بادغیس د لوړو زده کړو موسسه د همدې کرنیزو نباتاتو په اړه د معلوماتو په راټولولو کې مرسته کوي.
4. بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسه به د امکان تر بریده د خپلو څیړونو معلومات د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې سره شریکوي.
5. که چیري بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد په سطحه کوم پروګرام جوړوي، نو د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې استازو ته به د ګډون بلنه ورکوي.

دویمه ماده : دوه اړخیزه همکاري:

1. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسه به په دواړو مؤسسو کې د یوې مشترکې څیړنیزې ساحې پر تشکیل ګډ کار کوي.
2. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسه به د لوړو زده کړو وزارت په تائید په ګډو څیړنیزو ساحو کې په ګروپي ډول تحقیقات ترسره کوي.
3. د امکان په صورت کې به دواړه اداري (د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او د بادغیس د لوړو زده کړو موسسه) کوښښ کوي، چې په مشترک ډول په علمي او اداري برخو کې ځیني ضروري ورکشاپونه ترتیب کړي.
4. د ضرورت په اساس دواړه کولاي شي ترڅو د مؤقت وخت له پاره د یو بل له ماشین الاتو او لابراتواري توکو څخه استفاده وکړي.
5. دواړې اداري (د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسه) به یو دوه اړخیزه د همکاری شورا یا مجلس تأسیسوي او د دواړو خواوو استازي به په کې برخه لري. (دا مجلس به څلور غړي ولري، چې دوه غړي به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې او دوه غړي به بادغیس د لوړو زده



Vice-Chancellor & Student Affairs

Scanned with CamScanner

کړو مؤسسې څخه وي) دا څلور کسیزه مجلس به د دې هوکړه لیک د اجراء مسولیت ولري او پر خپل وخت به د قوانینو په رڼا کې اجرآت کوي همدارنګه د دې همکارۍ د پرمختګ څارنه به کوي او د ا مجلس به د شرایطو او اړتیاوو مطابق جوړیږي.

**دریمه ماده: د معنوي دارایی حقوق:**

1. که چیرې فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو او محصلانو او یا هم بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو له خوا یا محصلانو له خوا کوم فعالیت ترسره کیږي، له نتایجو څخه به یې دواړه اداري استفاده کوي او دواړه پوهنتونونه یې د سوداګرۍ کولو حق لري. (البته د هغه بل پوهنتون موافقه شرط ده!)
2. په هغه صورت کې، چې یو تحقیق د یادو پوهنتونونو څخه په شخصي او تنهایي ډول سر ته ورسیږي او یا د تحقیق نتایج د یو خاص شخص په واسطه ترلاسه شي، د IPR حق او امتیاز یوازې د هغه اداري په برخه دی.
3. په هغه صورت کې، چې د یو تحقیق نتایج او یا هم کوم بل اکاډمیک پروګرام په ګډه د دواړو پوهنتونو د فعالیتونو په نتیجه کې سرته ورسیږي، نو د دواړو پوهنتونونو ګډ امتیاز دی او که چیرې یو وخت امتیاز ورکول کیږي، نو دواړه تحصیلي اداري د امتیاز حق لري.
4. هره خپرونه، سند، او کومه لیکنه چې د برخه والو د ګډې همکاري پواسطه سرته رسیږي، نو د دې تفاهم نامې مطابق به ترسره کیږي.
5. د هرې خپرونې، سند او یا لیکنې لپاره د نوم ، لوګو او یا بله کومه رسمي علامه استعمالیږي، د دواړو ادارو اجازې ته اړتیا دی، د دې لپاره چې د لوګو او نوم څخه غلطه استفاده ونشي.

**څلورمه ماده: جریان، ختم او اصلاحات:**

1. دا تفاهم نامه د لاسلیک د نېټې څخه پنځه کاله په بر کې نیسي او دواړه تحصیلي اداري اختیار لري، چې په لیکلي ډول د جانبینو په توافق دا پروسه تمدید کړي.
2. هره اداره د شپږو میاشتو څخه وروسته کولای شي، چې دا تفاهم نامه د یو رسمي چینل له لارې په لیکلي ډول ختمه او فسخه کړي.
3. دواړه اداري دوه اړخیز حق لري، چې د دې تفاهم نامې شرایط په لیکلي ډول تصحیح کړي.



Scanned with CamScanner

4. د دې تفاهم لیک ختم، تصحیح او تر وخت تېرېدل به پر جاري فعالیتونو کومه اغیزه ونه کړي او د تفاهم نامې ختم، تصحیح او تر وخت تیریدل د دواړو پوهنتونونو په موافقه پورې اړه لري.

**پنځمه ماده: شکایت:**

د دواړو تحصیلي ادارو د هر عمل، تصویب او مربوطه عملیاتو او روزنو انجام د قانون په رڼا کې د دې تفاهم نامې لاندې راځي او همدارنګه د هرې لایحې رهنما او معلوماتو وړ عالي رتبه شخص ته ورکول کیږي.

هره تحصیلي اداره د دې تفاهم نامې یوه اصلي کاپي چې فراه د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس او د بادغیس د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس امضاء کړي وي د ځان سره ولري. په هغه صورت کې، چې لفظي ستونزې یا کوم بل غلط فهمي رامنځته کیږي، نو دغه تړون لیک په (۵) پاڼو کې په پښتو ژبه د مراجعې وړ دی.

| | |
|---|---|
| مولوي سمیع الله حقاني | الحاج مولوی غلام رسول سروری |
| د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس | د بادغیس لوړو زده کړو مؤسسې رئیس |
| لاسلیک او نیټه | لاسلیک او نیټه |